## د خوراکي توکو او کرنيزو محصولاتو د سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټهTC-3

تاريخچه

د خوراکي توکو او کرنيزو محصولاتو د سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټه په ۱۳۸۸ کال کې د سټنډرډونو د تدوين او ساختماني ملي کوډونو د رياست په چوکاټ کې ايجاد او په (۱۳۸۸/۱۰/۳۰هـ) نېټه د کمېټې  د لومړۍ غونډې په ترسره کولو سره يې په فعاليت پيل وکړ.

د خوراکي توکو او کرنيزو محصولاتو د سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټې د gain د دفتر او د سټنډرډ ملي ادارې د هوکړې پر بنسټ چې د ۱۳۹۱ کال په وروستيو کې د خوراکي توکو د غني کولو فرعي تخنيکي کمېټه ANSA/TC3/SC1 چې له اړوندو ادارو، خصوصي سکټور او اکاډميکو موسسو څخه تشکيل شوې ده، په ۱۳۹۲/۲/۳ نېټه ايجاد او خپله لومړۍ تخنيکي فرعي غونډه يې په ۱۳۹۳/۳/۲۷ نېټه ترسره کړه.

### ټولنيز فعاليتونه

د تخنيکي کمېټې ۱۷۲ غونډو جوړول

د سټنډرډ عالي شورا له لوري د ۷۰ ملي سټنډرډونو تصويب

د تخنيکي کمېټې په وسيله د خوراکي توکو او کرنيزو محصولاتو ۸۰ سټنډرډونو تدوين او نهايي کول

همکاره بنسټونه

- د علومو اکاډمي اداره د کمېټې د رييس په توګه
- د عامې روغتيا وزارت د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د فارمسۍ پوهنځۍ د غړي په توګه
- د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د غړي په توګه
- د اقتصاد وزارت د کرنې او د کليو د پراختيا وزارت د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د وترنرۍ پوهنځۍ د غړي په توګه
- د سوداګرۍ او صنايع وزارت د غړي په توګه

- د ممیزو، مېوو او سبزۍ د صادراتو د پراختیا اداره د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي اداره د سکرټر په توګه

## ټولنیزې دندې

ـ د اړتیا وړ سټنډرډونو ته لومړیتوب ورکول

ـ د تخنیکي کمېټې د کاري پلان جوړول

ـ د سټنډرډ د مسودې د تدوین لپاره د موادو د راټولولو او اقتباس په موخه د اړتیا وړ

ـ د تر پلان لاندې سټنډرډونو پر مسوده بحث او د نظر شریکول

ـ د تر پلاندې لاندې سټنډرډونو د مسودې نهایي کول

ـ د ملي سټنډرډونو بیا کتنه

ـ د سټنډرډ په ملي فارمټ کې د سټنډرډونو د نهایي شوې مسودې ترتیب او تنظیم او د ملي سټنډرډونو په توګه د تصویب په موخه د سټنډرډ عالي شورا ته د هغو استول